دوکتور صلاح الدين سعيدی – سعيدافغانی
۲۰۱۱/۰۵/۰۵

# د پاکستان دومخه سياست ادامه لري!

پرون ( ۲۰۱۱/۵/٤) د آي اس آي پخواني رئيس جنرال حميد ګل د بي بي سي راديو ځلورم کانال ته په خپله يوه مرکه کې وويل چې ده هغه وخت په ۱۹۹۶ ز کال کې د افغاني پلوي سره يو ځاي په سودان کې د اسامه بن لادن سره کتلي وه. د خبرو اترو څخه داسې افاده کيده چې د پاکستان په مشری او رهبري او په خاص ډول د جنرال حميد ګل په وساطت د طالبانو د حرکت او القاعدې سازمان ترمنځ د تفاهم او ښو اړيکو لپاره داسې کار صورت وموند چې د هغه په پايله کې د القاعدې د سازمان مشر اسامه بن لادن له خپلې ډلې سره بيا پاکستان او افغانستان هڅول کيږي. دا هغه وخت دی چې د طالبانو حرکت په افغانستان کې په قدرت کې دی.

د جنرال حميد ګل ددې اقرار او داسې نورو شواهدو داسې ښکاره کيږي چې پاکستان او داسې نورو حلقاتو غوښتل او پتيلي وه چې په افغانستان کې به د خپلو متوليانو په قدرت رسولو له يوې خوا په افغانستان کې هغه ځواکونه وټکوي چې له پاکستان د حاکميت سره په افغانستان کې مخالفت کوي او نه پريږدي افغانستان د پاکستان يو ايالت شي او له بلې خوا ايران او د ضرورت او اړتيا په صورت کې د ساړه جنګ د شعارو پر بنياد روسيه او يا د سيمې نور ځواکونه تر فشار لاندې رالولي او يا سره داسې وجنګوي چې د پاکستان او يا د هغوې د نړيوالو متحدينو په خيال برابر کړای شي. دا چې قدرتمندو عربي حاکمانو چې د بن لادن دلې ور سره مخالفت کاوه څومره غوښتل او مشابه عربي جهادي ډلې په افغانستان کې راښکيل او مصروف وساتي هم جدا بحث دي. اما پدې برخه کې پاکستان وتوانيده حتی د همدی ځواکونو په مرسته د پښتنو او بلوڅو سيمو او کوز افغانستان کې د ډيورند د تپل شوې کرښې نه هغه خوا هغه ځواکونه په پوره کاميابې وټکوي کوم چې د ډيورند د تپل شوې کرښې په ناروا والې باندې يې تأکيد لره. د پاکستان د پوځي استخباراتو وکولای شول په افغانستان کې داسې سياسي او نظامي حلقاتو ته په اوسني سياسي ستيج کې د قدرت زميني برابرې او قدرت ته يې ورسوي چې د منحطو قومي او منطقوي تأثيراتو لاندې د افغانستان په تجزيه او د ډيورنډ لاين د ناروا کرښې باند د تأئيد د مهر په ايښودو تيار دي.

د پاکستان اصلي پاليسي سازانو دتل لپاره نړۍ خطا ويسته ده او دخپل رسمي ګواکې ضد ترورېستي او دنړيوالې ټولنې د سياست سره په همکارې د پښتنو او بلوڅو او کوزه پښتونخوا کې په ړندو او کنو پوځي عملياتو د زرهاو انسانانو د مرګ او ژوبلې عامل شول اما په عمل کې يې خپل او يواځې خپلې منافع ساتلي او جنرالانو يې خپل جيبونه ډک کړي او ډکوي.

په جنايې او قانوني لحاظ که حتی غير مستقيم دلايل سره داسې کيښودل شي چې په منطقي ډول د شوې ادعا اثبات وکړي نو قاضي کولاې شي حتی دا غير مستقيمو دلايلو په بنياد هم ادعا ثابته او د متهم پر ضدحکم صادر کړي.

داچې اسامه بن لادن د سودان له هيواده پاکستان ته د پاکستان د استخباراتو د پخواني رئيس جنرال حميد ګل په واسطه پاکستان او افغانستان ته واپس راوستل کيږي دادې د پاکستان په ايبت آباد کې وژل کيږي اوجنرال صيب حتی په خپله دې خبرې باندې پرون هم اعتراف کوي او بيا هلته يې نړيواله ټولنه لټوي او د پاکستان دولتي مقامات په متواتره توګه خپلو نړيوالو متحدينو ته ګمراه کوونکي راپورونه ورکوي چې اسامه بن لادين ګواکې په سرحدي سيمو کې دی او بعضې لوړ پوړي پاکستاني مقامات په سپين سترکې بيا وايي چې هغه په پاکستان کې هم له سره نه شته. درحالې چې عيني شواهدو وښودله اسامه بن لادين د القاعده مشر په پاکستان، د پاکستان د اردو د مرکزي عالي مکتب په سل ميتري کې، د پاکستان د پايتخت په تقريبا ۵۰ مايله کې، په نظامي ښارکې چې شاواو خوا پوځي تانې او تلاشي وجود لري د خپلې کورنې سره له پنځه شپږو کلوراهيسې په ډيره لوړه کچه ژوند کوي نو څنګه کيدای شي د پاکستان مقامات دې پرې خبر نه وي؟

داچې محلي خلک وايې په دغه سيمه کې د پاکستان د پوځي اکادمې او پوځ متقاعد غټ افسران اوسيدل او د پاکستان د پوځي استخباراتو اداره دې د خپلو استادانو د محل او اوسيدو ځاې څخه بې خبره وی هم د منلو وړ نه ده.

دا چې پرون ( ۲۰۱۱/۵/٤) د پاکستان د ملکي حکومت رئيس د پاکستان اوسنی جمهور رئيس ښاغلې زرداري وايي چې پاکستاني دولتي مقامات د اسامه بن لادن به موجوديت د پاکستان په دغه مهمه نظامي سيمه کې بې خبرې اعلانوي هم له څو لحاظو د منلو وړ نه ده.

اوله داچې په داسي مهم پوځي ځای کې د نامعلومو اشخاصو ژوند کول د منطق په اساس او امنيتي لحاظه د منلو وړ نه ده او دوهمه که دا خبر ه هم ريښتيا وي او ګواکې ښاغلې زرداري پرې خبر نه وي نو بيا داحالت ددې ادارې بې کفايتي ثابتوي چې سبا به د اتومي انرژی او بمب په هکله داسې بې خبري او بې کفايتي وښودل شي.


افغان جرمن آنلاين تاسو په درنښت همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليږلو مخکې په ځير و لولئ

دا حالت ددې ادعا هم تأئيد کولای شي، همغسې چې يو پاکستاني لوړ پوړي پوځي افسر ځومياشتي د مخه په خپله يوه مرکه کې( د امريکې غږ راديو د آشناء خپروني) داوريدونکو سره شريکه کړه چې د پاکستان د نظامي استخباراتي اداره ټولي خبري ملکي اداري ته نه کوي.
ورستيو شواهدو او داسامه بن لادن موجوديت په پاکستان او داسي حساس ځاي کي وښودله او يقيني يې کړه چې د پاکستان ددې دومخه سياست په بنسټ په سيمه او نړۍ کې امنيت ته ډير کلک ګواښ او د افغانستان او پاکستان او نړيوالو دبچيانو په وژنه کې په کلکه لاس لري چې داحالت دزغملو وړ نه دی.
که نړيوال غواړی دې اوږدې تراژيدي ته دپای ټکي کيږدي نو په کار ده چې مسايل د پاکستان په داخل کي حل او فصل کړي او دافغانستان په کلو او باڼدو کې د افغانانو د ربړولو او کور ورانولو نه لاس واخلي.
دډيورند لاين د تپل شوي استعماري کرښي غير قانوني او بې اعتباره اعلانول د حل يوه مهمه او اساسي ليار ده.
تمام دلايل داسي ښکاره کوي چې د پاکستان دوه مخي سياست په مخ وړي او له نړيوالي ټولني څخه په ډيرې هوښياری جزيه اخلي.
تمام شواهد ښکاره کوي چې د پاکستان اصلي پاليسي جوړونکي سيمي او نړۍ ته مرګ، ژوبله او خرابي راوستله په هغه کي چې بې ګناه خلک قرباني ورکوي.
دوطن ټولو خيرخوا بچيانو ته په کار ده چې په افغانستان او سيمه کې ددې تراژيدې د ختمولو لپاره لاس په کارشي.
په دې برخه هرډول عطالت او بې پرواي د منلو وړ نه ده او د الله تعالی دمواخذې سبب به وګرځي.
فاعتبروا يا اولابصار

پای


افغان جرمن آنلاين په دربښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزی بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ